**برخه: پلانونه او بودېجه (E )**
**(Plans and Budgets )**

## لومړی لوست: د شخصي موخو یا هدفونو او مالي منابعو پوهه یا درک

### د زده کونکو د زده کړي موخي یا هدفونه:

زده کونکي به په دي لوست کي د لاندې موخو سره اشنا شي:
۱ - د شخصي مالي بودیجي برابرول یا تهیه کوي.
۲ –مالي موخو یا هدفونو ته انکشافه ورکول.
۳ - د پانګه اچونې د مشخصاتو د مختلفو نوعو پرتله کول یا مقایسه کول.

**وړاندېزي شوی یا ورکول شوی وخت د لوست لپاره:** ۲ ساعت

**وړاندېز شوي منابع:** لاندې منابع کیدلي شي چي په دې لوست کي ګټور واقع شي:

د کمپیوټر د پاورپواینټ په پروګرام کي هم ددي لوست درسي پلاي تهیه شوی او آما ده شوی دی
*Decisions & Dollars*. Alexandria, Virginia: The Council for Agriculture Education, 1993. (Curriculum Binder, Unit 1)
High School Financial Planning Program. National Endowment for Financial Education and Cooperative Extension Service, 1992.

**د سامانونو، لوازمو، شیانو او آسانتیاوو فهرست یا لړلیک**
د لیکلو لپاره سپینه ورقه یا صفحه یا تشه ورقه
د پاورپواینټ په خاطر پراجکتور(غټې ښودونکی)
د پاورپواینټ سلایدونه یا صفحي
روښانه سلایدونه
د زده کونکو د ورقو کاپي

**اصطلاح ګاني:**لاندې اصطلاح ګاني به په دې لوست کي تر استعمال لاندې واقع شي(ذکر شوي اصطلاح ګاني د پاورپواینټ په ۲ شمیره سلاید کې هم وړاندې شوي دي):

- Budget بودجه یا  راغلي او بیرون شوی حساب
- Financial planning process دمالې د طر حه کونې پړاو یا پروسه
- Goal هدف یا موخه
- Investments پانګه اچونه یا د پانګه اچونې مبلغ
- Long-term goal د اوږدې مودې موخه یا هدف

- Medium-term goal د منځنۍ يا وسطې مودې موخه يا هدف
- Short-term goal د لنډې مودې موخه يا هدف

**په زړه پورې تګلاره**:له زده کونکو نه پوښتنه وکړئ چې د يوې اونۍ په موده کې يې څومره پيسې په مصرف رسوي. له زده کونکو سره بحث وکړئ چې په څه ډول هغوې د پيرودنې لپاره تصميم نيسي. د تصميم نيولو دا پروسه يا پړاو ته د بودېجې د تهيه کولو سره اړيکه يا ارتباط ورکړئ.

## د محتوياتو لنډيز يا خلاصه او د لوست ستراتيژي

**لومړۍموخه يا هدف:** د شخصي مالي بوديجې تهيه کول يا برابرول.

**آټکل شوی ستونزه: بودېجه عبارت له څه شی نه ده؟**

**(د پاورپواينټ ۳ شميره سلاسد)**

**۱ –** مالي مديريت د شخصي منابعو په تنظيمولو او اداره کولو کې اهميت يا ارزښت لري.
**الف )** د شخصي مالي مديريت لپاره دلايل:

- ترڅو مالي موقف او حالت وپيژندل شي.
- د اړتياوو يا ضرورتونو او لومړيتوبونو تنظيم او تثبيت کول.
- د قرضې يا پور د اړتياوو طرحه کول

**ب )** د مالي منابعو اداره کول زياتې ګټې يا فايدې لري.

- مالې دقيق حالت يا وضيعت د تخمين شوی پلان په مقابل کې په لاس کې وي.
- خالصه فايده يا ګټه په اسانۍ او سهولت سره محاسبه يا حساب کيدلی شي.

**(د پاورپواينټ ٤ شميره سلاسد)**

**ج )** د شخيصي مالي مديريت په اړه ځني نواقص يانيمګړتياوي

- ترتيب او لومړی تنظيم د وخت غوښتنه يا تقاضا کوي.
- د ارقامو او معلوماتو نوي منظم کول ضروري يا اړين وي .

**(د پاورپواينټ ۵ شميره سلاسد)**

**الف ) بودجه (*budget*)** په لکلې بڼه پلان او يا هم په ناليکلې رسمې توګه د شتمنۍ څخه په راتلونکي کې د استفاده کولو آټکل کول او يا برنامه طرحه کول**.**

**(د پاورپواينټ ٦ شميره سلاسد)**

- د بودېجې د تهيه کولو لپاره ضروري ده چې ترڅو د لاسته راوړنې منابع او پيرودل شوي اقلام په نظر کې وينول شي.
- بوديجه د پيسو استعمال کټګوري کوي چې آيا د پيسو استعمال بنسټيزه اړتيا ده يا تجملي.

له دې نه دمخه چې د دې موخې محتویاتو باندې پیل وکړی، نو د **WS: 1-1** کاري صفحې نه په استفادې سره دزده کونکو فکر د شخصي مصارفو په برخه کې په لاس راوړئ. له **TM: 1-1**لوستي یا درسي موادو څخه استفاده وکړئ ترڅو د بودېیجي د تهیه کولو دلایل تشریح کړل شي. له دې نه وروسته چې لارښوونې بشپړې شوې، نو زده کونکي د **1-2.** کاري صفحې نه په استفادې سره ارزیابي کړې چې درک او پوهه د مفاهمو په برخه کې له کومه قراره ده.

**دوهمه موخه یا هدف :** مالی موخو یا هدفونو ته انکشاف ورکول.

**آېټکل شوی مسله:**مالي موخي یا هدفونه په څه ډول سره انکشافه کولی شي؟

۱ – مالي طرحه جوړول یوه پروسه ده، اخري یا د پای لاسته راوړنه ، نه ده.
الف ) د مالي د طرحې پروسه له یو سلسله مراحلو نه عبارت ده چې د ټاکلو موخو یا هدفونو او مقصدونو د براورد کولو لپاره تعقیبیږي.

**(د پاورپواینټ ۷ شمیره سلاسد)**

***ب ) د مالي په طرحه کولو کې شپږ مرحلې یا پروسې په لاندې ډول سره دي:***

1. د شخیصي او مالي ارقامو یا معلوماتو جمع کول.
2. د مالي موخو یا هدفونو او مقصدونو تثبیت کول.
3. د مالي معلوماتو تحلیل کول ترڅو ځای ناستي یا بدیلونه د موخو او مقصدونو د لاسته راوړنې د تشخیص لپاره شي.
4. مالي پلان ته انکشاف ورکول.
5. د پلان تطبیق کول.
6. په منظم توګه د پلان بیا لېدنه یا بررسي کول .

**(د پاورپواینټ ۸ شمیره سلاسد)**

- **الف ) موخه یا هدف:** عامه بیانیه، پراخه او بشپړه چې دا مشخصه کړي چې یو فرد څه غواړي ترڅو یې سرته روسوي.
- **د لنډې مودې موخه یا هدف (*Short-term*):** هغه موخه یا هدف چې د یوې میاشتي لپاره تثبیت کیږي.
- **د منځنۍ یا متوسطې مودې موخه یا هدف (*Medium-term*):** هغه موخه یا هدف دی چې دیوې ترشپږ میاشتو پورې ټاکل کیږي یا تعینیږي.
- **د اوږدې مودې موخه یا هدفه (*Long-term*) :** له هغه موخې یا هدف نه عبارت دی چې د شپږ میاشتو یا له شپږ نه اضافه وي.

له **TM: 1-2** درسي یا لوستي موادو نه په استفادې سره د مالي پروسې د طرحه کولو په برخه کې بحث وکړئ. له زده کونکو نه وغواړئ ترڅو د اوږدې مودې موخي یا هدفونه، منځنۍ مودوي موخي یا هدفونه او لنډې مودو موخي یا هدفونه بیان کړئ. له زده کونکو نه وغواړئ ترڅو د لیکلې بڼې پلان تهیه او برابر کړي چې هر یو ددې موخو یا هدفونو نه تعین او تشخیص کړي.

**دریمه موخه یا هدف:**د پانګه اچونې د مشخصاتو د مختلوفو نوعو مقایسه کول یا پرتله کول.
**آېټکل شوی یا وړاندېز شوی مسله:**د زراعت په برخه کې کومه نوعه پانګه اچونه شامله یا شتون لري؟

**(د پاورپواینټ ۹ شمیره سلاسد)**

۱ - خلک ددي لپاره پانګه اچونه سرته رسوي ترڅو ګټي یا منافع په لاس راوړي. په مالیه کي د پانګه اچونې اصطلاح د یو مالي تولید یا جنس یا ارزښت د پیرودنې په معنه ده، چي په راتلونکي د عاید توقع ورڅخه کیږي. په عامو اصطلاح ګانو کي پانګه اچونه(investment) په دي معني ده چي د هیله لرونکو پیسو لپاره پیسي په کار واچول شي. په کاروبار (business)کي د پانګه اچونې اصطلاح په دي معني ده چي د تولید کونکي پواسطه دیو فزیکي جنس پیرودل، لکه دوامداره تجهیزات یا داموالو موجودي(inventory) د راتلونکي کاروبار د امید د بهبود لپاره. د زراعت په برخه کي د پانګه اچونې څو نوعي شتون لري. (تاسې کولی شی هغه پانګه اچونو چي د پاورپواینټ په سلایډونو کي ورڅخه ذکر شوی دی، علاوه کړئ).

**(د پاورپواینټ ۱۰ شمیره سلاسد)**

الف ) زراعتی محصولات

- ❖ Fruits and vegetables میوي او سبزیجات یا سابه
- ❖ Field crops کرنئیز نباتات
- ❖ Forage crops ګیاوي یا علوفه ئي نباتات

**(د پاورپواینټ ۱۱ شمیره سلاسد)**

- Livestock مالداری
- ❖ Working livestock هغه څآروي یا حیوانات چي کار کوي.
- ❖ Livestock for consumption هغه څآروي یا حیوانات چي د مصرف لپاره دي.
- ❖ Breeding livestock هغه حیوانات یا څآروي د نسلګیری یا زیږونې لپاره دي.

**(د پاورپواینټ ۱۲ شمیره سلاسد)**

- ❖ Machinery ماشین
- ❖ Equipment تجهیزات یا آلي او اسباب
- ❖ Land ځمکه
- ❖ Buildings تعمیرونه

له **TM: 1-3**درسي یا لوستي موادو نه په استفادي سره کیدلي شي چي د زده کونکو سره د پانګه اچونې د مصرفونو په برخه کي له بحث سره مرسته وشي. له دي سره، سره چي ځني پانګه اچونې لومړی زیاتو مصارفو ته اړتیا لري. دا پانګه اچونه د تولید کونکی لپاره په اخره کي پایله ورکوي.

**مرور۱خلاصه یا لنډیز:** ددي لوست د خلاصې یا لنډیز په خاطر د زده کونکو له زده کړو موخو یا هدفونو نه استفاده وکړئ. **(د پاورپواینټ ۱۳ شمیره سلاسد)**. زده کونکي د محتویاتو پوري مربوطي هري موخي یا هدف په خاطر وغواړئ. د زده کونکو له ځوابونو څخه کولی شی چي اساسي یا بنسټیزو موخو یا هدفونو د ټاکنې لپاره چي باید تجدید نظرشي یا د مختلفو زاویو نه تدریس کړل شي، استفاده وشي .

**تراجرا کونې لاندي نیول:** تر اجرا لاندې قرار ورکول کیدلی شي د زده کونکو لاندې فعالیتونه په برکي ونیسي: له پیوسته شوو یا ضمیمه شوو صفحو نه استفاده وکړي.

WS: 1-1: Weekly Expenses (د اونی یا هفتوار مصارف)
WS: 1-2: Monthly Budget (میاشتنی بودیجه)

**ارزیابی:** ارزیابی باید په دي متمرکزه وي چي زده کونکي د لوست له موخو سره اشنا شي. په دي برخه

کي کولی شی چي له نمونه ئي ازموينې څخه ددي لپاره چي زده کونکي د موخو يا هدفونو سره اشنا شي، استفاده وکړي. د ليکلې بڼي ازموينه له دي سند سره پيوسته، وړاندي کيږي.

**د نمونئي ازموينې لپاره ځوابونه**

**مطابقت ورکول**

1. B
2. A
3. D
4. C

خالي يا تش ځايونوه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ

1. يوه مياشت
2. Investments ( پانګه اچوني )
3. شپږمياشتي يا له شپږ مياشتو نه اضافه.

**لنډ ځواب**

١ – د لوست د دريمي موخي يا هدف څخه د دي سوالونو د ځوابونو د ارزيابی لپاره استفاده وکړئ.
٢ - بوديجه له يو شخص سره دا مرسته کوي ترڅو د خپلو ارزښت لرونکو شيانو مثمر عمر باندې پوه شي. دا يوه وسيله ده چي د منظمې ساتنې لپاره، کله چي پور يا قرضې ته اړتيا وي ډيره ګټوره تماميږي. د ممکنه لاسته راوړنو پواسطه تجربه کيدلی شي، چي د پلانونو په تدوين او انکشاف کي مرسته وکړي.

**نمونه ئي ازموينه**

**لومړی لوست: د شخصي موخو یاهدفونو او مالي منابعو فهم او درک کول**

**نوم :** ____________________

**مطابقت ورکول**

**لارښوونه:**د صحیح او درست ځواب په مطابق اصطلاح وړاندي کړئ. د اصطلاح توری نظر په تعریف سره ولیکئ.

a.بودجه b.د مالي طرحې جوړونې پروسه یا پړاو

c.هدف یا موخه d.د منځنی یا متوسطې مودي موخه یا هدف

____________۱ له یو سلسله مرحلو یا پړاوونو نه عبارت دي چي د موخو یا هدفونو او معینو مقصدونو د براورد کولو په خاطر تعقیبیږي.

____________ ۲ د لیکلې بڼي یا غیر لیکلې بڼي رسمي برنامه ریزي کول یا آټکل کول ترڅو په راتلونکي له شتنمنی نه درسته استفاده وشي.

__________ ۳ هغه موخه یا هدف چي په یوه یا شپږ میاشتو کي په لاس باندې راتللي شي.

_________ ۴ عامه، پراخه او بشپړه یا جامع بیانیه چي دا مشخص کوي چي یو فرد څه غواړي سرته یي ورسوي.

خالي یا تش ځایونه په مناسبو کلمو سره ډک کړئ

۱ – دلنډي مودي موخي یا هدفونه عبارت له هغه موخو نه دي چي په منځ د _____________ ___________ کي ځآی ولري.

۲ ـ خلک _________________ کوي ترڅو چي عاید په لاس راوړي.

۳ - د اوږدې مودي موخي یا هدفونه عبارت له هغه موخو نه دي چي په ________________________ __________________ یا __________ کې براورده کیدلی شي.

**لنډ ځواب:** لاندې پوښتنو یا سوالونو ته ځوابونه وړاندې کړئ!

۱ – د زراعتي پانگه اچوني یا سرمایه گذاري پنځه نوعي لست کړئ.

۲ – د بودیجې تهیه کول یا برابرول څه اهمیت یا ارزښت لري؟

TM: 1-1

**بودیجه ولې ؟**

1. **د ارزښت لرونکو یا مهمو شیانو دمثمر عمر باندې پوهیدل.**
2. **د منظمې ساتنې لپاره یوه وسیله د ه.**
3. **کله چې قرضي یا پور ته اړتیا وي نو ډیره ګټوره واقع کیږي.**
4. **د ممکنه لاسته راوړنو پواسطه تجربه کیدلی شي.**
5. **د پلان په تدوین او انکشاف کي مرسته کوي.**

## FINANCIAL PLANNING PROCESS

## د مالۍ د طرحه کولو پروسه یا پړاو

1. د شخصي او مالي ارقامو یا معلوماتو جمع کول یا په لاس راوړل.
2. د مالي موخو یا هدفونو او مقصدونو تثبیت کول.
3. د مالي معلوماتو تحلیل کول ترڅو ځای ناستي یا بدیلونه د موخو یا هدفونو او مقصدونو د لاسته راوړنې لپاره تشخیص شي.
4. مالي پلان ته انکشاف ورکول.
5. د پلان تطبیق کول.
6. په منظم شکل سره دپلان بررسي یا بیا لیدنه .

TM: 1-3

## د زراعتي پانګه اچونو نوعي

الف ) زراعتی محصولات

- ❖ Fruits and vegetables میوي او سبزیجات یا سابه
- ❖ Field crops کرنئیز نباتات
- ❖ Forage crops علوفه ئي نباتات

**ب )** Livestock مالداری

- ❖ Working livestock هغه حیوانات یا څآروي چي کار کوي.
- ❖ Livestock for consumption هغه حیوانات یاڅآروي چي د مصرف لپاره دي.
- ❖ Breeding livestock هغه حیوانات یا څآروي چي د نسلګیری یا زیږونې لپاره دي.
- ❖

**ج)**

- ❖ Machinery ماشین
- ❖ Equipment تجهزات، آلات او اسباب
- ❖ Land ځمکه
- ❖ Buildings تعمیرونه

WS: 1-1

## هفته وار يا اونئيز مصارف

**مقصد:**

١ - ترخو چي په ثبت او ريکارډ کولو بانديې تاکيد وکړل شي.

٢ – ترخو زده کونکو ته وخت ورکول شي چي د خپلو عايداتو مصارف ارزيابي کړئ.

**طريقه کارى يا پروسيجر:**

١ – ټوله هغه شيان چي اونۍ کي پيرودل شوي دي هغه ثبت او ريکارډ کړئ.

| وركړل شوې پيسي | جنس(شى) | تاريخ(نيټه) |
|---|---|---|
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |
| | | |

## میاشتنۍ بودیجه

**مقصد:**

١ – ترڅو چي احتمالي مصرفونه او لاسته راوړنې په یوه میاشت کي تشخیص شي.
٢ – ترڅو چي مصارف د اساسي اړتیاوو په شکل کتګوري شي.

**طریقه کارۍ یا پروسیجر:**

١ – تاسې داسې فرض کړئ چي تاسې هره ورځ اته ساعاته کړي پیل کړی دی. ستاسې نوی معاش ________ افغانۍ دی.
٢ – میاشتنۍ بودیجه داسې ترتیب کړئ چي ستاسي د پیسو استعمال په ګوته کړي. تاسې اړتیا لرۍ ترڅو د زیاتو مواردو په هکله تصمیم ونیسئ.
آیا کور مو خپل دی او که په کرایه باندې دی؟
ستاسې د ترانسپورت وسیله په څۀ ډول سره ده؟
آیا پلان لرۍ چي پس اندازه یا بچت وکړئ؟
له یاده مه باسئ چي غذا یا خوراکه، پوښاک، میلمستیا ساعت تیري هم په بودیجه کي باید شامل کړل شي.

| پیسي | مصرف | پیسي | عاید |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | | | |
| | مجموعی مصارف | | مجموعی عاید |

**میاشتنۍ بودیجه**

**مقصد:**

١ – ترڅو چي مصارف او احتمالي لاسته راوړني د یوي میاشتي په موده کي تشخیص کړل شي.

٢ – ترڅو چي مصارف د اساسي او تجملي اړتیاوو په شکل کټګوري شي.

**طریقه کارې یا پروسیجر:**

١ – تاسې فرض کړئ چي تاسې هره ورځ اته ساعته کار پیل کړي.

**له زده کونکو سره د تادیه کولو په برخه کي بحث وکړئ. لاندې دندي او کارونه په یو ساعت یا یوه ورځ کي څومره پیسي ورکوي؟**

**د غوښې دمارکیټ کارکونکی یا کارمند.**

**د اوزو یا پسونو پادوان یا چوپان.**

**غذا یا د خرڅلاو تخمینونه .**

**کروندګر.**

**له زده کونکو څخه وغواړئ ترڅو چي مناسبي پیسي په جدول کي ذکر کړي.**

٢ – د میاشتنۍ بودیجي لپاره داسې بودیجه ترتیب کړئ چي ستاسي د پیسو استعمال وښايي.

تاسې اړتیا لرۍ ترڅو د زیاتو مواردو په برخه کي تصمیم ونیسۍ.

آیا کور مو خپل دی او که په کرایه باندې دی؟

ستاسې د ترانسپورت وسیله په څۀ ډول سره ده؟

آیا پلان لرۍ چي پس اندازه یا بچت وکړئ؟

له یاده مه باسئ چي غذا یا خوراکه، پوښاک، میلمستیا ساعت تیري هم په بودیجه کي باید شامل کړل شي.

تاسې د یوه ښوونکی په حیث اطمنان حاصل کړئ چي زده کونکو دمیاشتي خپل ټول مصارف محاسبه کوي. همدارنګه د دوهم ځل لپاره د وخت چوکاټ دمیاشتنۍ بودیجي د زده کونکو لپاره یاداوري کړئ.